د امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د ایمان تازه کوونکي بیان لیکلي ګلدسته په نوم

# د غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه د عِلمِ دِین سره شوق

پښتو



60 واکوالو څنګه توبه کړله؟

کله چې بنده ربنتیا والي تو...

د اولیاو د ټولو نه افضل قسم

با عمله استاذ




پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د عِلمِ دِين سره شوق[1]

**دُعائے عطّار:** يا رَبِّ مصطفٰے ! څوک چې دا رساله" د غوثِ پاک د عِلمِ دِين سره شوق" اولولي يا واوري، هغه ته د عِلمِ دِين حاصلولو شوق او د عمل کولو توفيق عطا کړې او د مور پلار سره هغه اوبخښې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان: ما تيره شپه عجيبه واقعه اوليدله، ما خپل يو اُمتي اوليدلو کوم چې په پل صراط باندې کله په ملاسته او کله په زنګونانو باندې روان وو، په دې کښې هغه دُرُود راغے کوم چې هغه په ما باندې راليږلے وو، هغه، هغه په پل صراط باندې اودرولو تر دې پورې چې هغه په پل صراط باندې پورې وَتلو.

(معجم کبير، 282/25، حديث39)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...اميرِ اهلسنت دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه په 3 او 4 ربيع الاخر1441 هجرئ مطابق 30 نومبر او په وړومبي دسمبر کال 2019 په عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچئ) کښې د مَدَنی مذاکرے نه مخکښې د "غوث پاک کا شوقِ علمِ دين " او "غوث پاک کی علمی شان " په موضوع باندې بيان اوفرمائيلو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الکريم! د شعبه هفته وار رساله مطالعه له خوا دا بيانونه د څه ضروري ترميمونو او زياتوالي سره په ليکلي شکل کښې وړاندې کولے شي.

## د رښتياؤ په برکت 60 ډاکوانو توبه کړله

په 9 ذي الحج شريف يو هلک د خپل کور نه اووتلو او په پټو کښې په ايوه کوونکي غوئي پسې روان شو. ناڅاپه غوئے هغه هلک طرف ته راتاؤ شو او د نوم وئيلو سره ئې داسې اووئيل: اے فلانکيه! تهٔ د لوبو ټوقو د پاره نه ئې پيدا کړے شوے. هلک چې غوئي په دې قِسمه خبره باندې واوريدو نو اوويريدو او فوراً کور ته راغلے او د کور چت ته اوختلو نو څه ګوري چې په سوونو ميله لرې د ميدانِ عرفات نظاره ښکاري په کوم کښې چې حاجيان د کورونو نه لرې د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره راجمع شوي وو. دې هلک چې دا اوليدل نو د خپلې مور په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: "زما خوږې محترمې مور! ما د الله پاک د رضا د پاره د الله په لار کښې وقف کړئ او ما ته بغداد شريف ته د تللو او هلته د علمِ دين حاصلولو او د الله پاک د نيکانو بندګانو په خدمت کښې د حاضريدو سره د هغوئي د فيضان حاصلولو اجازت راکړئ." مور بي بي ترينه د دې وجه اوپوښتله نو هغه هلک په اِحترام سره ټوله واقعه بيان کړله. د الله پاک په خوښه او رضا باندې مور بي بي لبَّيک اووئيلو او د الله پاک د لارې د دې وړوکي مسافر د پاره ئې په سامان تيارولو لاس پورې کړلو او څلويښت ديناره (يعني د سرو زرو سِکې) ئې خپل ځوي له په قميص کښې دننه اوګنډلې. بيا په سفر باندې د روانيدو نه مخکښې ئې د خپل ځوي نه وعده واخسته چې هميشه او په هر حال کښې رښتيا وايه او بيا ئې د دې نه پس خپل ځوي ته د دې وئيلو سره په مخه ښه اووئيل: "لاړ شه! ما ته د الله پاک په لاره کښې د هميشه د پاره وقف کړې، اوس به دا

مخ زه د قیامت نه مخکښې نه وینم.“ (د الله دې نیکې بندې ته پته وه چې بیا به په ژوند باندې خپل ځوی اونه وینې.)

(بہجۃ الاسرار، ص167)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مور د نصیحت منلو صِله

دا هلک د یوے ورې قافلے سره د بغداد په لور روان شو، په لاره کښې یوه واقعه راپیښه شوه چې 60 ډاکوانو د قافلے مخه اونیوله او لوټ مار ئې شروع کړو، هغوئې څوک هم نه پرېښودل او د هر یو نه ئې د هغه مال او اسباب په زوره واخستل خو د کم عمره ګڼلو سره دې هلک ته چا هیڅ هم اونه وئیل، یو ډاکو په خوا د تیریدو سره هسې پوښتنه اوکړه: آیا ستا سره هم څه شته؟ هلک بغیر د ویرې جواب ورکړو: آو! زما سره 40 دیناره (یعني د سرو زرو خلویښت سِکے) دي. ډاکو دا اوګڼل چې دے په مونږ پسې خندا کوي او مخکښې لاړو، د دې هلک نه یو بَل ډاکو هم پوښتنه اوکړه نو هغه له ئې هم دغه جواب ورکړو چې د هغه سره د سرو زرو 40 سِکے دي. کله چې دا دواړه ډاکوان د خپل سردار خوا له لاړل نو هغه ته ئې اووئیل چې مونږ په قافله کښې یو داسې جرأت مند هلک اولیدلو کوم چې په دې حالت کښې هم زمونږ نه نهٔ ویرېږي او په مونږ پسې خندا کوي. سردار اووئیل: څه خندا کوي؟ هغه دلته راولئ، کله چې هغه هلک راغے نو د سردار په پوښتنه باندې ئې بیا هم هغه اووئیل څه چې ئې مخکښې وئیلي وو چې زما سره خلویښت د سرو زرو دیناره دي، سردار چې تالاشي واخسته نو واقعي چې د هغه په

جامو کښې ځلوېښت ديناره (د سرو زرو 40 سِکې) ميلاؤ شوې. د هلک په دې رښتياو وئيلو باندې ټول حيران شول او د هغه نه ئې د رښتيا وئيلو وجه اوپوښتله نو هلک اووئيل: زما مور د کور نه د راوتلو په وخت زما نه وعده اخستې وه چې هميشه او په هر حال کښې رښتيا وايه او زه د خپلې مور وعده نشم ماتولے. د ډاکوانو سردار چې دا واوريدل نو په ژړا شو او اوئې وئيل: هائے افسوس! دا هلک د خپلې مور د اخستے شوې وعدې دومره خيال ساتي او يو زه يم چې کلونه تير شول د خپل رَبّ وعده ماتووم. هغه سردار په ژړا د الله پاک د لارې د دې وړوکي مسافر په لاس توبه کړه او د هغه باقي پاتو ملګرو هم د دې وئيلو سره توبه کړه چې اے سرداره! چې د لوټ مار د ګناه په کارونو کښې تهٔ زمونږ سردار وې اوس د نيکئ په لاره باندې به هم، هم تهٔ زمونږ سردار ئې.

(بهجة الاسرار، ص168)

نگاہِ ولی میں یہ تاثیر دیکھی　　　بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! د الله پاک د لارې دا وړوکے مسافر بَل څوک نه وو بلکه زمونږه او ستاسو ټولو خوږ پير و مرشد، د پيرانو پير، پير دستګير، روښانه ضمير، قطبِ رباني، محبوبِ سبحاني، پيرِ لاثاني، د پيرانو پير، د ميرانو مير، شيخ سيد ابو محمد عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو. د رښتيا وئيلو هم څومره ښه برکتونه دي چې د رښتياؤ په برکت د ډاکوانو سَرَه سردار ته د توبے سعادت نصيب شو. هر مسلمان له پکار دي چې هغه په خپلو ديني او دنياوي ټولو معاملاتو کښې رښتيا وائي، رښتيا وئيل نجات ورکولو والا او جنت ته بوتلونکے کار دے.

## د مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې فرامين

❁ رښتيا په خپل ځان باندې لازم کړئ ځکه چې دا د نيکئ سره دي او دا دواړه جنت ته (بوتللو والا) دي او د دروغو نه بچ اوسئ ځکه چې دا د ګناه سره دي او دا دواړه دوزخ ته (بوتلونکي) دي.

(ابن حبان، 7/494، حديث:5704)

❁ "کله چې بنده رښتيا وائي نو نيکي کوي او کله چې نيکي کوي نو محفوظ کيږي او کله چې محفوظه شي نو جنت ته داخليږي."

(مسندامام احمد، 2/589، حديث:6652ملتقطا)

❁ "ښومره لوئے خيانت دے چې ته خپل مسلمان ورور ته څه خبره اوکړې په کومه کښې چې هغه تا رښتينے ګڼي حالانکه تهٔ هغه ته دروغ وائې."

(ابوداود، 4/381، حديث:4971)

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! بعضې وخت داسې هم کيږي چې بنده د خپل عزت بچ کولو د پاره دروغ وائي چې که رښتيا وائي نو خلق به ئې ملامته کوي، ردې بدې به ورته وائي حالانکه عزت په رښتياؤ کښې پټ دے ولې که په دروغو اګرچه ظاهري طور په دُنيا کښې د بے عزتئ نه بچ هم شي خو د اللّٰه پاک په بارګاه کښې به د قيامت په ورځ چې پښيمانتيا او شرميدل وي هغه د بيانولو نه دي، د دروغو نه د بچ کيدو يوه طريقه دا هم ده چې بنده د دنياوي رسوائې په مقابله کښې د دوزخ د آخرت رسوائې او عذابونو ته پام اوکړي چې د دنيا رسوائي خو د يو څو ساعتونو ده او ډيره زر به ختمه شي خو د

آخرت رسوائي خو د دې نه ډېره زياته ده، په دې وجه د چا ملامته کوونکي د ملامتيا پرواه مه کوئ، هميشه رښتيا وائې.

غیبت سے اور تُہمت و چُغلی سے دُور رکھ | خُو گر تُو سچ کا دے بنا یا ربِّ مصطفٰے
عُجب و تکبُّر اور بچا حُبِّ جاہ سے | آئے نہ پاس تک رِیا یا ربِّ مصطفٰے
اَمراضِ عِصیاں نے مجھے کر نیم جاں دیا | مُرشِد کا صدقہ دے شِفا یاربِّ مصطفٰے

(وسائلِ بخشش، ص132)

حضور غوثِ پاک، شهنشاهِ بغداد رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ وړومبنے تعليم په خپله علاقه جيلان کښې حاصل کړو بيا د نور تعليم د پاره ئې په کال 488ھ کښې بغداد ته تشريف يوړلو، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ډېره په ښه طريقه عِلم حاصل کړو او د خپل تعليم پوره کولو سره ئې د خپلې زمانے په عالَمانو کښې ځانګړے مقام حاصل کړو. په طالبِ علمئ کښې هغوئي د لوږې سره هم مخ شول او پته نه لګي چې د څومره سختو مرحلو نه راتير شول خو د دې باوجود ئې هم د عِلمِ دِين حاصلولو جذبه ختمه نه شوه. په ډېر محنت او مشقت ئې عِلمِ دِين حاصلولو او کله چې دا سلسله پوره شوه او هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د فضل او کمال درجے ته اورسيدل، ډېر لوئے عالِمِ دِين شو، د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د عِلم خبرې تر لرې لرې پورې اورسيدلې نو د هغوئي استاذِ محترم او مرشِد صاحب حضرت شيخ ابو سعيد مخرومي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د درس او تدريس په خاطر خپله مدرسه هغوئي ته حواله کړه د کومې ذمه وارئ چې هغوئي يواځې په خوشحالئ سره قبوله کړه او د تدريس مسند ته ئې د ښکلا ورکولو سره د علوم او فنون تړې ماره کړل.

(الطبقات الکبریٰ للشعرانی، 178/1. نزهة الخاطر الفاتر، ص20، بتغير. تاريخ مشائخ قادريه، ص125، 126. قلائد الجواهر، ص134)

زما مرشد، حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله قصيده غوثيه کښې ارشاد فرمائي: دَرَسْتُ الْعِلْمَ حَتّٰى صِرْتُ قُطْبًا يعنې ما د عِلم درس حاصل کړو تر دې چې د قُطبِيَّت مقام ته اورسيدم.

(قصيده غوثيه، مدنی پنج سوره 264)

نُور ئې ارشاد اوفرمائيل: ”فقه زده کړه بيا د دې نه پس تنهائي اختيار کړه ځوک چې بغير د علم نه د خدائے عبادت کوي هغه چې ځومره سميږي د هغې نه به زيات خرابيږي. د خپل ځان سره د شريعت شمع واخله، د الله پاک په لور د ټولو نه ډيره نزدې لاره د بندګئ قانون لازمي نيول او د شريعت رسۍ نيول دي.“

(بهجة الاسرار، ص106)

احکامِ شریعت رہیں ملحوظ ہمیشہ مُرشِد مجھے سنّت کا بھی پابند بناؤ
اَچھّوں کے خریدار تو ہر جا پہ ہیں مُرشِد بَدکار کہاں جائیں جو تم بھی نہ نبھاؤ
عطّارؔ کو ہر ایک نے دُھتکار دیا ہے یا غوث! اسے دامنِ رحمت میں چُھپاؤ

(وسائلِ بخشش، ص570)

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! د اوليائے کرامو د ټولو نه افضل قِسم ته صِدِيق وئيلے شي او اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه صِدّيق وو.

(نیکی کی دعوت، ص580)

## د عِلمِ لَدُنّي 70 دروازې

شيخ ابُو الحسن عمراني کيماتي او بزار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِما په بغداد کښې په کال 591ھ کښې اووئيل چې مونږ شيخ محي الدين ابُو محمد عبد القادر جيلاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته په

مدرسه کښې په "دروازهٔ اَزج" کښې په کال 557ھ کښې حاضر شو او هغوئي انځر خوړلو، بيا هغوئي خوراک پريښودو او تر ډير وخته پورې بے هوشه وو بيا ئې اوفرمائيل: په دې وخت کښې زما په زړه باندې د عِلمِ لَدُنِّي 70 دروازې برسيره کړے شوې. هره يوه دروازه دومره فراخه ده لکه څومره چې آسمان او زمکه فراخه ده، بيا ئې په خاص خلقو کښې د الله پاک د پيژندګلو خبرې تر ډير وخته پورې کولې تر دې چې د حاضرينو هوش تللو او مونږ وئيل چې زمونږ دا ګمان نه دے چې د شيخ نه پس به بَل څوک داسې خبرې اوکړي.

(بهجة الاسرار، ص56)

## د الله ولي له ځائے ورکړه

زما پير او مرشد سيدي حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وړوکوالي د يوې واقعې په باره کښې فرمائي: يو کَس زما په خوا تير شو کوم چې ما نه پيژندلو، هغه فرښتې هغه ورځ په دې فرمائيلو واوريدلې چې " د الله ولي له ځائے ورکړه." هغه په فرښتو کښې د يوې نه پوښتنه اوکړه: دا هلک څوک دے؟ نو فرښتې اووئيل چې ډير زر به د ده شان عظيم وي، ده ته به عطا کولے شي، منع کولے به نشي، ده له به اختيار ورکولے شي او منع کولے به نشي او دے به نزدې کولے شي د ده سره به دهوکه نشي کيدلے. حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بيا ما هغه کَس څلويښت کاله پس اوپيژندلو نو هغه د هغه وخت په ابدالانو[1] کښې وو.

(بهجة الاسرار ص48)

---

[1] دا د اوليائے کرامو يو قِسم دے۔

خُدا کے فضل سے ہم پر ہے سایہ غوثِ اعظم کا ہمیں دونوں جہانوں میں ہے سہارا غوثِ اعظم کا
عزیزو کر چکو تیار جب میرے جنازے کو تو لکھ دینا کفن پر نامِ والا غوثِ اعظم کا
لَحد میں جب فرشتے مجھ سے پوچھیں گے تو کہہ دوں گا طریقہ قادری ہوں نام لیوا غوثِ اعظم کا

(وسائلِ بخشش، ص93 ، 98 ، 99)

ہیں پیرِ پیراں غوثِ پاک ہیں میرِ میراں غوثِ پاک
مَحبوبِ سبحاں غوثِ پاک ولیوں کے سلطاں غوثِ پاک
مَحبوبِ یزداں غوثِ پاک سلطانِ ذیشاں غوثِ پاک
مشکل ہو آساں غوثِ پاک دو درد کا درماں غوثِ پاک
فرماؤ احساں غوثِ پاک راحت کا ساماں غوثِ پاک
بُلواؤ جاناں غوثِ پاک بن جاؤں مہماں غوثِ پاک
جس وقت چلے جاں غوثِ پاک یا پیر! ہو احساں غوثِ پاک
پورا ہو جاناں غوثِ پاک دیدار کا ارماں غوثِ پاک
ہو جائے مری جاں غوثِ پاک بس آپ پہ قرباں غوثِ پاک
ٹل جائے شیطاں غوثِ پاک بچ جائے ایماں غوثِ پاک
اُف! حشر کا میداں غوثِ پاک لو زیرِ داماں غوثِ پاک
ہو میری جاناں غوثِ پاک بخشش کا ساماں غوثِ پاک

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د غوثِ پاک علمي شان او شوکت

زما پیر او مرشد شهنشاهِ بغداد، حُضُور غوثِ پاک رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ ډیر په سخت وخت

کښې ډېر په محنت او شوق سره عِلمِ دِين حاصل کړو. هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پخپله فرمائي: ما به د خپلې طالبِ علمئ په زمانه کښې د استاذانو نه سبق اخستو او د ځنګل په لور به تلم بيا به په بيابانونو او شاړو کښې ورځ وه او که شپه، طوفان وو که باران، ګرمي وه که يخني خپل لوستل به مې جاري ساتل هغه وخت به ما په خپل سر باندې يوه وړه شان عمامه په سر کوله او معمولي شان ترکاريانې (يعني سبزيانې) به مې خوړلې، کله نا کله به دا ترکاريانې هم نه ميلاويدلې خو ما به خپل لوستل جاري ساتل، بيا به خوب راغلے نو خالي خيټه به د وړو وړو کاڼو نه په ډَکه زمکه باندې سملاستم.

(قلائد الجواهر، ص10 ملخصاً)

## علمي مقام

کله چې زما مُرشد غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د عِلمِ دِين نه فراغت حاصل کړو او هغوئي د درس و تدريس مسند او د اِفتاء منصب ته اورسيدلو يعنې مفتي هم جوړ شو نو خلقو ته د وَعظ و نصيحت او عِلم و عمل په خپرولو کښې مصروف شو، د ټولې دنيا نه به عالمَان او صالحان (يعني نيکان خلق) د هغوئي بارګاه ته د عِلمِ دِين زده کولو د پاره حاضريدل، هغه وخت په ټول بغداد کښې د هغوئي برابر څوک نه وو.(قلائد الجواهر، ص5، ملخصاً) هغوئي د عِلم سمندر وو، هغوئي ته په عِلمِ فقه، عِلمِ حديث، عِلمِ تفسير، عِلمِ نَحو او عِلمِ ادب وغيره علومو باندې پوره مهارت حاصل وو، کله چې هغوئي له د هغوئي استاذانو د عِلمِ حديث سند ورکړو نو اوئي فرمائيل: "اے عبدُ القادر! د الفاظِ حديث سند خو مونږ تاسو له درکوو، خو حقيقت دا دے چې د حديث معانې او مفهوم خو مونږ ستاسو نه زده کړي دي."(حيات المعظم فی مناقب غوث اعظم ص46، بتغير قليل) لکه چې استاذ وائي

چې مونږه اګرچه چې ظاهري خو ستاسو استاذان سهي خو په حقیقت کښې په باطني طور باندې خو تاسو زمونږ استاذ يې.

تُو ہے وہ غوث کہ ہر غوث ہے شیدا تیرا　　تُو ہے وہ غیث کہ ہر غیث ہے پیاسا تیرا
سورج اَگلوں کے چمکتے تھے چمک کر ڈُوبے　　اُفقِ نور پہ ہے مِہر ہمیشہ تیرا
(حدائقِ بخشش، ص23)

شرحِ کلامِ رضا! غوث د وَلیانو اعلیٰ منصب دے، د نورو غوثانو هم تاسو غوث يې يعني تاسو غوثُ الاَغواث يې چې نور غوثان ټولپه ستاسو عاشقان دي، تاسو هغه کوهے يې چې ټولپه کوهیان ستاسو تږي دي.

د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلمِ دِين خپرولو سره دومره شوق وو چې هغوئي به خپل وخت بالکل نه ضائع کولو، هغوئي به په علمي کارونو کښې اکثر مصروف وو، د نورو ښارونو طالبِ علمان به د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تعریف او علوم و فنون کښې د مهارت شهرت اوریدلو سره د هغوئي په خدمت کښې د عِلمِ دِين حاصلولو او د هغوئي د فُیوضاتو او برکتونو حاصلولو د پاره حاضریدل، هغوئي د عِلم او عمل داسې نمونه وه چې څوک به هم د هغوئي خوا له د علم حاصلولو د پاره حاضریدل خالي لاسونه به نه واپس کیدل، یعني د علم سره سره به يې عمل هم ښودلو.

## باعمله استاذ

دا ډيره د غور قابل نکته ده استاذ داسې باعمله پکار دے چې د هغه سره لوستلو والا باعمله جوړ شي، که مخکښې لمونځ ګزاره وي نو تهجد کوونکے جوړ شي. که

مخکښې د هغه ظاهر صحيح وي نو بيا د استاذ په برکت سره باطن هم روښانه شي، کاش! چې داسې استاذ وي. د حضرت قاضي ابو سعيد مُبارک مَخزُومي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په بغداد کښې يوه مدرسه وه، هغه به په هغې کښې وعظ و نصيحت کولو او علم حاصلوونکو ته به ئې علم ښودلو، کله چې قاضي صاحب د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د علمي او عملي فضل او کمالونو او فهم و فراست نه خبر شو نو قاضي صاحب خپله مدرسه هغوئي ته حواله کړه بيا خلق په ګڼ شمير کښې د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په بارګاه کښې د علمِ دين حاصلولو د پاره حاضريدل.

(سيرت غوث اعظم، ص58 بغير قليل)

## د يو آيت ئې څلويښت معانې بيان کړلې

يوه ورځ يو قاري صاحب د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په مجلس شريف کښې د قرآنِ کريم يو آيت تلاوت کړو نو هغوئي د هغه آيت په تفسير کښې وړومبے يوه بيا دوه د دې نه پس دريمه تر دې چې د حاضرينو د علم مطابق د يولسمې والا غوثِ پاک يولس معانې بيان کړې، او بيا ئې نورې وجې بيان کړې د کومو شمير چې څلويښت وو او په هر هغه ځائے کښې ئې په تائيد کښې عِلمي دليلونه بيان اوفرمائيل او د هرې معنې سره ئې سند هم بيان کړو، د هغوئي د علمي دليلونو د تفصيل سره ټول حاضرين حيران پاتې شول.

(اخبار الاخيار، ص11، بتغير)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ د عقیدت اظهار

امام ابُو الحسن علي بن هيتـي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي "ما د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ سره د حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ د مزار زيارت اوکړو، ما اوليدل چې حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ د مزار نه بهر تشريف راوړلو او حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ ئې خپلې سينې ته راجُخت کړو او هغوئي ته ئې خِلعت (يعنې بهترينې جامې) واچولې او ارشاد ئې اوفرمائيلو: "اے شيخ عبد القادره! بے شکه زه په عِلمِ شريعت، علمِ حقيقت، علمِ حال او فعلِ حال کښې ستا محتاج يم. (بهجة الاسرار، ص226) اعلٰی حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: شريعت د حضورِ اقدس صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اقوال دي او طريقت د حضور افعال (يعنې اعمال) او حقيقت د حضور اَحوال او مَعرفت د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم علومِ بے مثال دي.

(فتاوىٰ رضويه، 460/21)

مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ ليکي:

تجھی کو دیکھنا تیری ہی سُننا تجھ میں گم ہونا ۔۔۔ حقیقت مَعرِفت اہلِ طریقت اِس کو کہتے ہیں
ریاضت نام ہے تیری گلی میں آنے جانے کا ۔۔۔ تَصوُّر میں ترے رہنا عبادت اِس کو کہتے ہیں

(مراٰة المناجيح، 513/6)

د فتاوىٰ رضويه، جلد 26، په صفحه: 433 باندې دي: حضور (غوثِ پاک رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ) د هميشه نه حنبلي وو او وروستو چې عينُ الشرِيعَةِ الکبرٰى ته اورسيدو او د اجتهاد منصب ئې حاصل کړو مذهبِ حنبل ئې کمزورے اوليدلو او د دې مطابق ئې فتوٰى ورکړه چې حضور (يعنې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ) محي الدين (يعنې د دين ژوندي کولو والا)

او د دينِ متين دا خلور واړه ستنې دي د خلقو له خوا چې به ئې په کومه ستنه کښې ضعيف والے اوليدو نو د هغې تقويت ئې اوفرمائيلو (يعنې هغې له ئې قوت ورکړو).

جو وَلی قبل تھے یا بعد ہوئے یا ہوں گے سب اَدب رکھتے ہیں دِل میں مِرے آقا تیرا
بقسم کہتے ہیں شاہانِ صریفین و حریم نہ ولی ہو نہ ہوا ہے کوئی ہمتا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص23، 24)

## د طالبِ علمانو سره محبت

زما د خوږ مرشد حضرت غوثُ الثَّقَلَین رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د ژوند مبارک يو اهم اړخ دا هم دے چې هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د دين کار په داسې وخت کښې شروع کړو کله چې هر خوا ته فتنه او فساد خور وو، ملتِ اسلاميه د کمزورئ ښکار وه، په دې خرابو حالاتو کښې زمونږه خوږ مرشد، حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په بغداد شريف کښې تشريف فرما شو او د بے لارې شوي انسانيت په نيغه لار کولو د پاره ئې د نيکئ د دعوت عام کولو سلسله شروع کړه. سرکارِ غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د علم او عمل نمونه او د ښو اخلاقو مالک وو، هغوئي به په طلبه کرامو باندې ډير شفقت کولو، د هغوئي د وړو وړو ضرورتونو به ئې هم خيال ساتلو. د امام اِبنِ قُدَامَه حنبلي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په بارګاه کښې د حضرت غوثُ الاَعظم په باره کښې چې پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئي جواب ورکړو چې مونږ د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د عمر آخرئ حصه اوموندله او د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په مدرسه کښې مو قيام اوکړو، زمونږ به داسې خيال ساتلے شو چې کله خو به غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه خپل شهزاده حضرت يحيٰي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه زمونږ خوا له راليږلو، هغه به زمونږ د پاره ډيوه بلوله او هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه به د خپل کور نه زمونږ د پاره ډوډئ راليږله.

(سير اعلام النبلاء 183/15)

# کمزوري ذهن والا طالبِ علم باندې شفقت

زما د مرشد پاک، غوثِ اعظم دستګير رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په ديني طالبِ علمانو باندې د شفقت يو اړخ دا هم وو چې هغوئي به د هغوئي کمزوريانو ته نظر نه کولو، دا زمونږ د استاذانو د پاره ډير بهترين مثال او د تقليد لائق واقعه ده. حضرت شيخ احمد بن مُبَارک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه سره يو عجمي (يعني غير عربي) طالبِ علم وو، د هغه ذهن ډير کمزورے وو، ډير په مشکله به ئې څه څيز ذهن ته راتللو، يو ځل هغه طالبِ علم د هغوئي په خدمت کښې سبق لوستلو چې ابنِ سَمحل نومې يو ګس د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د زيارت د پاره حاضر شو، هغوئي چې کله د هغه طالبِ علم کمزورے ذهن او د هغوئي د هغه سره په کمزوري ذهن باندې صبر او تحمل اوليدلو نو ډير حيران شو، کله چې هغه طالبِ علم د هغه ځائے نه پاڅيدو او لاړو نو ابنِ سَمحل عرض اوکړو چې د دې طالبِ علم کمزوري ذهن او ستاسو صبر ته زه ډير حيران يم، زما مرشد اوفرمائيل چې زما محنت د هغه سره بس د يوے هفتې نه هم کم دے ځکه چې دا طالبِ علم به وفات شي. حضرت سَيِّدُنا احمد بن مُبارک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې د هغه ورځې نه مونږ د هغه طالبِ علم ورځې شميرلې او چې کله يوه هفته پوره شوه نو په آخرئ ورځ واقعي هغه وفات شو.

(قلائد الجواهر، ص 8 ملخصاً)

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! زما پير روښانه ضمير هم وو، هغوئي ته د هر څه پته وه چې دے به کله وفات کيږي. د غوثِ پاک د کمزوري ذهن طالبِ علم سره خواري کول او

په شفقت سره هغوئي ته سبق ښودل زمونږ د پاره د تقليد لائق خبره ده، په عام طور باندې د استاذ شفقت د ذهين طالب علم د پاره وي که د الله رضا مخے ته وي نو يقيناً په کمزوري ذهن باندې په خوارئ باندې به ډير ثواب ميلاويږي ځکه چې کوم عمل په دنيا کښې ګران وي هم هغه همره به د قيامت په ورځ د نيکو په تَله کښې وزن دار وي، لکه څنګه چې نقل دي: اَفْضَلُ الْاَعْمَالِ اَحْمَزُهَا يعنې د ټولو نه افضل عمل هغه دے په کوم کښې چې خواري زياته وي. (مرقات، 549/6، تحت الحديث: 3383) ځکه کمزوري ذهن والا طالب علم سره خواري ډيره وي، په هغه باندې غصه هم راځي چې دے نه پوهيږي خو که بيا هم څوک د صبر سره دين ورښائي او ثواب ګټي نو څومره ښه خبره ده.

## د امير اهلسنت کمال ديني سوچ

امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: زما دا ذهن دے چې که څوک هر څومره کمزوري ذهن والا وي هغه د مدرسة المَدينه يا جامعة المَدينه نه فارغول نه دي پکار ګني نو پخپله به هم ډوب شي او کيدے شي چې د هغه خاندان هم ډوب شي. د هغه خاندان والا به هم نفرت کوي چې مونږ خپل بچي ته د الله نوم ښودل غوښتل، د رسول الله حديث ښودل غوښتل، په ډيرو آرمانونو مو اوليږو خو دے ئې فارغ کړو. الله پاک دعوتِ اسلامي له ډير ښه حيثيت او معيار ورکړے دے. څوک داسې شته کوم چې دوه زره استاذان راجمع کړي. د الله پاک ډير کرم دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د غوثِ پاک د غلامئ مُهر دے. بهرحال که طالبِ علم کمزوري ذهن والا وي نو هغه د نظره غورځول نه دي پکار تر خپله وَسه پورې په هغه باندې هم کوشش جاري ساتل پکار دي نن نه نو

سبا، سبا نه نو چرته نا چرته خو به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! اولولي، كه دے اونه لوستلے شي نو د هغه اولاد به وړاندې اولوستلے شي... الله دې كړي چې زما خبره زړه پريوځي!!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د استاذ مقصد

امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: استاذان دې په خپلو شاګردانو باندې شفقت کوي او هغوئې دې د خپلو بچو په شان ګڼي. د استاذ مقصد دې دا وي چې شاګردان به د آخرت د عذاب نه بچ کوي.

(احياء العلوم، 82/1)

د استاذ دې دا مقصد وي چې خپل ځان او خپل شاګردان د دوزخ د اور نه بچ کول دي. کاش! په ديني مدرسو کښې سبق ښودونکي استاذان که نن د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په سيرت باندې عمل اوکړي او د خپلو ديني طالب علمانو سره د خپلو بچو په شان سلوک اوکړي نو په ښه علمي او عملي طور باندې به مضبوط عالِمَان زيات شي. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم!

## په فتوىٰ نويسئ کښې بادشاهت

زما مرشد غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په درس او تدريس، ليک لوستلو، وعظ او نصيحت او د دې نه علاوه په مختلفو علمي شعبو کښې ډير مهارت لرلو، خو په خاص طور باندې په فتوىٰ نويسئ [فتوے ليکلو] کښې خو هغوئې ته ډير کمال حاصل وو چې د هغه دور لوئے لوئے عالِمَان، فقهاء او مفتيانِ کرام رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡهِم به هم د هغوئې د لا جوابه فتوو سره

لا جوابه کيدل. شيخ امام مُوَفِّقُ الدِّين بن قُدَامَه رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه فرمائي چې مونږه اوليدل چې شيخ سَيِّد عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه په هغوئي کښې دے چا ته چې هلته په (بغداد) باندې د علم او عمل او فتویٰ نويسئ بادشاهت ورکړے شوے دے. (بهجة الاسرار، ص225) د هغوئي د علمي مهارت دا حالت وو چې که د هغوئي نه به د ډير مشکل مسائلو هم تپوس اوکړے شو نو هغوئي به د هغه مسائلو ډير آسان او ښه جوابونه ورکول، هغوئي په درس و تدريس او فتویٰ نويسئ کښې تقريباً (33) کاله د دينِ اسلام خدمت اوکړو، په دغه وخت کښې چې به کله د هغوئي فتاوٰی د عراق علماؤ له يوړلے شوې نو هغوئي به د هغوئي په جواب باندې حيران پاتې شول.

(بهجة الاسرار، ص225، ملتقطاً و ملخصاً)

## د مشکل مسئلے آسان جواب

زما د مرشد غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه ځوي حضرت عبدُ الرزاق جيلاني رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه فرمائي: يو کَس د دريو (3) طلاقو قَسم داسې اوخوړو چې هغه به د الله داسې عبادت کوي، چې هغه وخت به په مخ د زمکه باندې بَل څوک نه کوي، که هغه داسې اونکړے شول نو د هغه ښځه دې په 3 طلاقو طلاقه وي، کله چې د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه په بارګاه کښې دا مسئله وړاندې کړے شوه او د دې د حل پوښتنه اوکړے شوه چې اوس هغه کَس څه اوکړي او کوم داسې عبادت اوکړي چې د هغه ښځه د طلاقو نه بچ شي او قسم هم مات نه شي؟ سُبْحٰنَ الله! زما مرشد غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه په لږ وخت کښې د دې مسئلې حل وړاندې کړو: چې دا کَس دې مکے مکرمې ته لاړ

شي او د طواف ځائے دې خالي کړي او يواځې دې طواف اوکړي، قسم به ئې هم پوره شي او د هغه ښځه به طلاقه هم نه شي، د هغوئې په دې جواب باندې عالمَان حيران شول. (بهجة الاسرار، ص226 ملخصاً) واقعي ده چې طواف يو داسې ځانګړے عبادت دے کوم چې په ټوله دُنيا کښې په يو ځائے کښې ادا کيږي که يو بنده يواځې طواف اوکړي نو په مخ د زمکه به په بل ځائے کښې چرته هم طواف کولو والا نه وي.


علومِ مُصطفٰے و مُرتضٰی کے تمہیں پر ہیں کھلے اَسرار یاغوث

(قبالۂ بخشش، ص120)

ہیں پیرِ پیراں غوثِ پاک ہیں میرِ میراں غوثِ پاک
مَحبوبِ سبحاں غوثِ پاک ولیوں کے سلطاں غوثِ پاک
مَحبوبِ یزداں غوثِ پاک سلطانِ ذیشاں غوثِ پاک
مشکل ہو آساں غوثِ پاک دو درد کا درماں غوثِ پاک
فرماؤ احساں غوثِ پاک راحت کا ساماں غوثِ پاک
بُلواؤ جاناں غوثِ پاک بن جاؤں مہماں غوثِ پاک
جس وقت چلے جاں غوثِ پاک یا پیر! ہو احساں غوثِ پاک
پورا ہو جاناں غوثِ پاک دیدار کا ارماں غوثِ پاک
ہو جائے مری جاں غوثِ پاک بس آپ پہ قرباں غوثِ پاک
ٹل جائے شیطاں غوثِ پاک بچ جائے ایماں غوثِ پاک
اُف! حشر کا میداں غوثِ پاک لو زیرِ داماں غوثِ پاک
ہو میری جاناں غوثِ پاک بخشش کا ساماں غوثِ پاک

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پرانۍ سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net